# له چا څخه چې لمونځ هېر شو، نو هغه مهال دې وکړي کله چې وریاد شو، لدې پرته یې بله کفاره نشته

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «له چا څخه چې لمونځ هېر شو، نو هغه مهال دې وکړي کله چې وریاد شو، لدې پرته یې بله کفاره نشته: {وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي} او زما د یاد لپاره لمونځ وکړئ [طه: 14] ».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم بیانوي چې له چا څخه هر یو فرضي لمونځ هېر شو تر دې چې قضا شو، نو کله چې وریاد شو باید په راګرځولو کې یې بیړه وکړي، ځکه د لمانځه د پرېښودلو ګناه یې نه بخښل کیږي او نه پرې پرده اچول کیږي تر دې چې مسلمان بېرته خپل لمونځ راوګرځوي کله چې وریاد شي، الله جل جلاله په خپل عزتمند کتاب کې فرمایلي: {وأقم الصلاة لذكري} [طه: 14] ، یعنې هېر شوی لمونځ ادا کړه کله چې دې درياد شو.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65088